احسان الله آرین زی ۲۰۱۹/۱۱/۱۲

د خلکو ځینې استازي(!) په سکس پسې لالهانده دي!

په دې اونۍ کې تصادفاً یوه شپه، په داسې یو کور مېلمه شوم چې د افغانستان د ملي شورۍ څو استازو هم هلته تشریف درلود!
په مېلمستیا کې همدا حضرات اکثریت وو؛ ځکه نو نژدې ټولې خبرې همدوې کولې او بل چا تقریباً دا حق نه درلود چې د خلکو د استازو! په تاوده مجلس کې څه ووایي. دا نور خلک یوازې اورېدونکي وو او بس!
افغانستان ریاستي سیاسي نظام لري او ولسمشر د دولت رییس یا د واک او ځواک د درې ګونو قواوو (اجراییه، مقننه او قضاییه) مشر دي.
د افغانستان ملي شورۍ (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) د قانون جوړولو تر ټولو لوړ اورګان دی چې د خلکو د ارادې استازیتوب کوي. دا شورۍ باید ډېر قوانین او نړیوال میثاقونه په خپل وخت تصویب کړي، کلنۍ بودیجه منظور یا د سمون له پاره رد کړي او د حکومت یا اجراییه قوې په اجراآتو پام وساتي او حتی د وزیرانو د استیضاح او سلب صلاحیت واک لري.
خو دا درنې دندې هغه استازي په سمه توګه سر ته رسولی شي چې سواد ولري، زده کړه ولري، پوهه ولري؛ افغانستان، سیمه او نړۍ وپېژني، د تور او سپین په توپیر پوه شي، د خلکو د استازیتوب دنده سپېڅلي وبولي، ځان د خلکو خادم وګڼي او هېوادپاله وي!
په هغه شپه، د دې څو حضراتو خبرو په ډاګه وښوده چې پرله پسې څلوېښت کلنې جګړې، زموږ ګران هېواد په ټوله مانا د سقوط په درشل درولی او که چېرته د دې دردېدلی وطن بچیان، د ملي یووالي په سیوري کې د دولت د مشروعیت او د درې ګونو قواوو د پیاوړتیا له پاره زیار ونه باسي، کېدای شي چې موږ له خورا ناوړه پایلو سره مخامخ شو.
په هغه شپه دې ښاغلو مېلمنو نه د افغانستان په هکله څه وویل او نه د رواني څلوېښت کلنې خونړۍ غمېږې په هکله، دوی نه د شورۍ د هغه خواشینوونکي حالت په هکله خبرې وکړې چې په اونیو- اونیو نصاب نه شي پوره کولای او نه یې د حکومت د اجراآتو د څار په هکله څه وویل او لنډه دا چې د دوی ټولې خبرې د بهرنیو سفرونو، زرهې لنډکروزر موټرو، بادیګاردانو، قراردادونو، پروژو، مقرریو او امتیازاتو په هکله وې!
دې استازو ویل چې هره اونۍ د ملي شورۍ د ولسي جرګې یا مشرانو جرګې یو پلاوی بهر ته روان وي. دوی وویل چې په دې ډول سفرونو کې، د استازو زده کړو، تخصص او ژبني مهارت ته نه کتل کېږي؛ بلکه بین الوکالتي عدالت په پام کې نیول کېږي چې هر استازی باید په نوبت بهر ته لاړ شي! هلته صمګ بکمګ کیني، په لږ او ډېر استثنی شراب وڅښي، نایت کلپونو ته لاړ شي او د دوی په ژبه (انجای) وکړي!
داسې ښکاري چې د شورۍ د دواړو خونو په اداري مشرتابه او رییسانو کې هم دومره اداري کفایت نشته چې له دې پلاوو څخه، چې په هر سفر یې په لسګونو زره ډالر لګښت راځي، د کار راپور وغواړي چې راځه وروره حساب راکړه چې څه دې وکړل، څه دی وویل او وطن ته دې څه ګټه ورسوله؟!
زه د هغه شپې له ځینو خبرو څخه داسې پوه شوم چې ځینې دا تش په نامه مصلحتي استازي، حتی د افغانستان نامه، حیثیت او وقار ته په سپکه سترګه ګوري، ځینې د خپلو عیاشیو د پاره له هېڅ ډول ناروا کارونو څخه مخ نه اړوي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او ځيني دومره ټيټه سويه لري چې په يوه سيمه ييز يا نړيواله غونډه کې د حضور په ديپلوماتيکو اصولو هم نه پوهېږي!
يو مېلمه وويل چې دوه کاله مخکې مشرانو جرګې د دريو مېرمنو داسې يو پلاوی کوم افريقايي هېواد ته استولی وو چې يوه په ټکي انګليسي نه پوهېده! دی جناب د يوې استازی په هکله وويل چې له تشناب څخه يې په ګيلاس کې اوبه اخستې وې؛ خو استنجا يې په رڼا ورځ په عمومي دهليز کې وهله!
داسې يوه کيسه هم وشوه چې يو عالی جناب وويل چې موږ يو ځلې د پاريس په کوڅو کېد ځنډ له امله، د اندورا هيواد الوتکه مېس کړه او پرېکړه مو وکړه چې په اندورا کې د نړۍ د پارلمانونو غونډې ته هډو ځو نه او دا مو غوره وبلله چې د رومانيايي پيغلو د زيارت له پاره جرمني ته لاړ شو او بيا بېرته کابل ته ستانه شوو!
لنډه دا چې د هغو ميلمنو حضراتو ځينو کيسو، زه يو ځلې بيا هغه تراخه حقيقت ته متوجه کړم چې زموږ ټولنه د يو شمېر فاسدو دولتي چارواکو له لاسه، په ټوله مانا له اخلاقي سقوط او حتی زوال سره مخامخ ده. کله چې د خلکو درواغجن استازي، له سفرونو، بزنس کلاس ټکټونو، ښځو، شرابو او نايت کلپ څخه پرته، د ويلو له پاره بل څه ونه لري، بايد د خپل هېواد له پاره وژاړو!
ښکاره خبره ده چې داسې لګښتونه د پلار د جايداد په عوايدو او يا د ملي شورى په معاش او سفريو نه کېږي. دا بېځايه لګښتونه، د خلکو استازي دې ته هڅوي چې د رشوت، چور، غضب او غلا له لارې د زرهې ګاډو، باډيګارادانو، مېلمستونونو، سفرونو، ښځو او شرابو (خرچي) برابرې کړي او دا چې په اونيو- اونيو د شورى او په تېره بيا ولسي جرګې نصاب نه پوره کېږي، علت يې همدا دی چې د خلکو ډېر استازي وزارت په وزارت، سفارت په سفارت او رياست په رياست په غلاوو، قراردادونو او پروژو پسې ګرځي او که کومه استخباراتي ځاله هم د ګډ کار او ښه معاش بلنه ورکړي، (نه) نه ورته واي؛ ځکه چې د حرامو، ناروا او غلطو کارونو له پاره حرامو او ناروا پيسو ته اړتيا وي! پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ